په جزیره نت کې د بشیر الانصاري لیکنه .
ژباړه : عبدالرحمن فرقاني ۰٤/۰۸/۲۰۱۰

# دکابل نړیوال کنفرانس او داشغال دوه اړخیزه پروسه

آیا نړیوال کنفرانسونه کولای شی – که چیرې هغه د کابل د کنفرانس په پیمانه هم وی - هغه نظام وژغوری چې د هیواد نه ئې د نړی د تریاکو ځولی او دنړیوالې مافیا اومنظمې جریمې ځاله جوړه کړی ده ؟

ملی سوله
دسرې جګړی میراث
د " افباك " نه "باكاف " ته
ټولې لیارې تر اسلام آباد تیریږی
دایرانی لوبغاړی کلابندې
ګتمن څوک دی

داندیښنواونا اومیدۍ نه په ډکه یوه فضا کې ، اوپه داسې شرایطو کې چې پکې د ائتلاف د ځواکونو مرګ ژوبله او دافغانستان په حکومت کې فساد ورځ تر بلې ډیریږی د کابل نړیوال کنفرانس دایر شو ، تر څو دهغو دوړو د پردې تر شا چې د اشغالګرو ټاګونو جوړه کړې وه ، او دکابل پلازمینه ئې د یوې عسکری قطعې په څیر اړولې وه ، نه دا چې د یوه هیواد پلازمینه وی، د خلکو توجه د هغو لویو میلمنو تبسمونو ته راواړوی چې د کابل په کنفرانس کې د ګډون لپاره راغلی وو.
هغه نړیوال کنفرانس چې د ۲۰۱۰ کال دجون په شلمه نیټه په کابل کې دایر شو ، او دملګرو ملتونو سرمنشی بان کې مون او د ناتو د ټرون سرمنشی راسمون او د ۷۰ هیوادونو استازو په کې ګډون وکړ، په تیرو څلورو لسیزو کې په افغانستان کې تر ټولو لوی کنفرانس ګڼل کیږی . د افغانستان حکومت په پلازمینه کابل کې د دې کنفرانس په دایریدلو غوښتل نړیوالی ټولنه ته ووایی چې حکومت د میلمنو د امنیت په نیولو قادر دی ، چې لدې میلمنو څخه څلورڅلویښت د بهرنیو چارو وزیران وو . او همدا راز ئې غوښتل په ډاګه کړی چې په راتلونکی کې کولای شی د دفاع دنده په غاړه واخلی.

## ملی سوله

دکابل نړیوال کنفرانس د لندن له کنفرانس نه وروسته چې شپږ میاشتې وړاندې پدې موخه دایر شو، تر څو دافغانستان ددولت له لوری د وسلوالو ډلو سره د مصالحې لپاره په وړاندې شوې پروسه باندې تباحث وکړي ، دایر شو. او ددې کنفرانس د دایریدو موخه څرنګه چې دافغانستان حکومت اعلان کړه ، د مخالفینو سره د سولې دپروسې څیړل ، او امنیتي چارې د افغانستان حکومت ته سپارل ، او په هغو نړیوال کومکونو کې چې اوس مهال د نړیوالو موسساتو په واک کې دي حکومت ته ډیر واک ورکول وو.
له کوم مهاله چې ښاغلي کرزي د واک واړې په لاس کې اخیستې دي ، دافغانستان حکومت سوله ایز سیاست خپل کړی دی ، د طالبانو په تحریک کې ئې معتدلو عناصرو ته دروازې پرنیستی دي ، خو لاتراوسه د نهو کلونو په اوږدو کې حکومت ندی توانیدلی چې هغه معتدل عناصرپیدا کړي . که چیرې د سولې کوم امکان وی نو کیدلای شي چې د پاکستان له حکومت سره شونی وي ، او یا د پاکستان دهغې فوجي موسسې سره چې په تیرو دوه کالونو کې د کرزی د حکومت سره دومره مینه پیدا شوې ده ، چې په رسمی توګه ئې د افغاني نظامی عناصرو روزنه په خپله خاوره کې د بهرنیو چارو د وزیر په ژبه اعلان کړله .

## دسرې جګړی میراث

کله چې په کال ۱۹۵۸م ایوب خان د پاکستان د حکومت واږې په لاس کې واخیستې ، نو د پاکستان او امریکا اړیکې یوې نوې مرحلې ته ننوتلې ، هغه عسکري ټرون چې د ایوب خان او ایزنهاور د واکمنۍ په دوران کې د پاکستان او امریکا تر منځ لاس لیک شو ، او په پایله کې ئې د امریکا استخبارتو دپیښورد بډه بیرې په سیمه کې خپل هغه مرکز پرانیست ،چې له لاری ئې په افغانستان کې د روسانو فعالیتونه تر خپلې څارنې لاندې ساتل .


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اود دي ترون له لارى امريكا وكولاى شول چي د هغو اسلامي جمهوريتونو په زړه كې ځاى ومومى چې د روسانو تر اشغال لاندې وو ، اوپردغو هيوادونو او افغانستان باندې ئې د دغه اډې څخه تجسسي پروازونه اجرا كول ، اوداسې پيښه شوه چې لهمدې اډې څخه هغه امريكايى الوتكه چې ګيري باودر ئې پيلوټ ؤ او د روسې په فضا كې ئې پورته كړى وه په روسيه كې راولويدله . او دكال ۱۹۵۸ م نه د طالبانو تر آخري ورځو پورې د پاكستان او امريكا تر منځ د افغانستان په سرهر ډول همكارى او هماهنګى ادامه درلوده . او د دې مرحلې په اوږدو كې امريكا افغانستان ته د پاكستان په ستركو كتل ، او خپل كارونه او پلانونه ئې د دې ستراتيژيک ملګرى (پاكستان ) له لارى چې په اسلامى چاپيريال كې ئې خپل فعال رول په ډيرزيركتيا لوبولا په مخ بيول . خو د يولسم سپتمبر پيښواو د افغانى الاصل خليل زاد راپيدا كيدل د پيښو په ستيج باندې پدغو درې اړخيزه اړيكوكې ښكاره بدلون را منځ ته كړ ، او د افغانستان حكومت ترخپل ګاونډي پاكستان نه امريكايى ښاغلى ته په وفادارۍ كې وړاندې شو.

## د " افباك " نه "باكاف " ته

كله چې باراک اوباما د افغانستان په هكله خپله ستراتيژى اعلان كړه ، نو دپاكستان او افغانستان اړوند ئې د ستراتيژۍ په يوالى ټينګار وكړ ، او دامريكا د سياست په ژبه كې ئې ورته د افباک اصطلاح پيدا كړه ،چې د امريكا په پلان كې د افغانستان اوپاكستان د كليمو لنډيز دي ، د افباک اصطلاح نوې اصطلاح ده چې د اوباما ادارې راپيدا كړه اود كال ۲۰۰۹ م نه د ديورند د كرښې په دواړو اړخونوكې چې د نړۍ په كچه كړكيچني سيمې دي ، د نظامى عملياتو د يوالى لپاره د امريكا دخارجي سياست په ادارو كې استعمالوله . د افباک اصطلاح د پاكستان د سياستمدارانو احساسات راوپارول اوپدې اصطلاح كې ئې خپل هيواد ته سپكاوى محسوس كړ ، چيرته چې ځان د خپل اتمى ګاونډي سره پرتله كوي نه هم د هغه زخمى ګاونډي سره چې د لويانو جګړوكړولى دي ، د ورستيو دريو لسيزو په اوږدو كې د دې كليمې اړوند د پاكستان سياسى مسؤولينو حساسيت ښودلا ، چيرته چې پرويز مشرف دير شپيګل مجلې ته په يوه مركه كې داسې ويلي وو : زه په مكمله توګه ددې اصطلاح مخالف يم ،زه ئې نه تايدومه ، ځكه چې دا كليمه پاكستان دافغانستان سره په يوه تله كې بردي ، دافغانستان او پاكستان تر منځ لوى فرق دى هلته حكومت او امنيت نشته ،برخلاف د دې په پاكستان كې امنيت او سياسى ثبات اواستقرار دي .
د ځينو امريكايى مسؤولينو په ژبه پدې ورستيو مياشتو كې د افاک كليمه په باكاف باندې بدله شوې ده ، يعنى پاكستان او افغانستان ، او رچاد هالبروک دامريكا خاص استازى افغانستان اوپاكستان ته خو د دې كليمې له استعمال نه ډډه كوي .

## ټولى ليارى تر اسلام آباد تيريږى

وروسته له نهو كلونو چې د طالبانو دحكومت د راپرزيدلو څخه تيريږي د اتلاف دځواكونه په وړاندې د جګړې د كړۍ پراخيدل ، او دكابل د حكومت ناكامى ، اوپه ايران باندې دكړۍ تنګول ، په سپينه مانۍ كې د پريكړو واكداران دې پايلې ته ورسول چې د افغانستان كشاله پرته له پاكستانى عمق څخه نشى حل كيدلاى ، او دې ته اړتيا ده ترڅو زاړه شريک ته چې د افغانستان څخه د بهرنيو ځواكونو وتلو ته ليواله دى بيرته مخه شي . دبنسټيزه مسالو دحل لپاره يو كال وړاندې دپاكستان اوامريكا ترمنځ يو ډول خبرې پيل شوې چې ستراتيژيكې خبرى ونومول شوې ، د دبنسټيزه مسايلو څخه يوه د افغانستان سره داړيكوځرنګوالى ؤ .
كله چې هيلرى كلنټن دكابل په كنفرانس كې د ګډون لپاره د لارې په اوږدو كې له پاكستان څخه كتنه وكړه ، د دې ستراتيژيكو خبرو په دوهم پړاوكې ئې ګډون وكړ. د امريكا د بهرنيوچارو د وزيرې دمه كيدل د پاكستان په پلازمينه اسلام آباد كې ډير پيغامونه لرى ، چې كيدلاى شي تر ټولو مهم پيغام ئې دا وې ،چې امريكا دپاكستان رول د افغانستان دكشالې په حل كې له پامه نشي غورځولاى ، اوغواړى چې اوبه بيرته خپل رو ته راواړوي .
هغه وزيره چې په لاس كې ئې ړكنه اوپه مخملى دستماغي كې ئې د اوسپني منګوله وه پداسې حال كې چې د پاكستان د اتمى پروسې اړوند ئې ويره وښوده خو د افغانستان د سولې په هكله ئې د پاكستان موقف تايد كړ، اودافغانستان دكشالې د اوارولولپاره ئې خپلې خبرې د پاكستان د پوځ له مشر اشفاق احمد ګيلانى سره ګټمنې وبللې . اوپه ښكاره ډول ئې په ډاګه كړه چې د طالبانو سره دسولې خبرې پدې موخه په لاره اچول كيږى تر څو دافغانستان دكشالې دحل لپاره يو سيميز موقف پيدا شي ، اوامريكا په افغانستان كې د سولې اړوند دهر ډول زيارسره موافقه ده ، اوهيڅ ډول وړانديز نه ردوي .

## دايرانى لوبغاړى كلابندې

دامريكا دبهرنيوچارو وزيرې په هغو مراسمو كې ګډون وكړ، چې د هغې تجارتى لارې د پرانستلواړوند ترون پكې لاسليک شو ،چې د پاكستان د خاورې په اوږدو كې تيريږى او هند د افغانستان سره نښلوي ، او دا كار د دې موجب كيږى چې د هغې لارې نه لږ استفاده وشي چې افغانستان د ايران په بندر عباس پورې تړي . اود پاكستان د ترون په اساس به تجارتى توكي د پاكستان د خاورې په اوږدو كې له افغانستان نه هند ته اوبرعكس انتقاليږى ، اوپدې هڅه


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولـئ

چې د نړۍ له هیوادونو سره د افغانستان تجارتی راکړه ورکړه وده وکړي ، د افغانستان تولیدات به د پاکستان بحری بندرونو ته رسیږی ، امریکا دا کار وستایه اود دواړو ګاوندیانو تر منځ ئې ارزښتناک تړون وګانه .
دپاکستان او افغانستان تر منځ د تجارتی لارې پرانیستل کیدای شي د امریکا هغه خوب ریښتیا کړي چې غواړی په منځنۍ آسیا کې د انرژۍ مصدرونه دافغانستان د خاورې له لیارې په هندی براعظم پورې وتړی ، او د ایران د(سلام ) پایپ لاین په وړاندې لاره غوڅه کړي چې غواړی پاکستان په ایران پورې ونښلوي اوتوقع کیږی چې د چین د خاورې په اوږدو کې وغزول شی ،چې ډیر کار هم پرې شوی دی .
که چیرې دایران او امریکا تر منځ کشمکش له یوې خوا او دایران او دامریکا د ملګروتر منځ کشمکش له بلې اړخه تود شي ، نود افغانستان پیچلی بحران به د امریکا دلوې شوې افسانې د له منځه وړلو لپاره یو طلایی چانس وی ، کومه خبره چې امریکا پرې پوهیږی او غواړی د مخنیوی لپاره ئې خپل ستراتیژیک اوتجربکار ملګری پاکستان ته مخ واړوي .

## گتمن څوک دی

د کابل له نړیوال کنفرانس نه لومړنی مستفید جمهور ریس ښاغلی کرزی دی ، چې وکولای شول کنفرانس پداسې ډول ترتیب شي ، چې د ده موخې پکې ترلاسه شی ، لکه : د تحالف له هیودونو څخه دا تعهد اخیستل چې تر کال ۲۰۱۴ پورې ئې ځواکونه په افغانستان کې پاتی شي ،او همدا دده د حکومت د پای کال دي ، او دې یوداسې چا ته اړتیا لری تر څو دده دواکمنۍ تخت وساتي .
پداسې وخت کې چې د شفافیت نړیواله منظمه د افغانستان حکومت په فساد باندې تورنو هیوادونو د لست په سر کې اعلانوی ، که چیرې صومال د ځانګړی حالت په اساس ترینه لیری شي ، د کابل کنفرانس دایر شو تر څو د هغوبهرنیو کمکونو ۵۰په سلو کې د هغه حکومت په واک کې ورکړي ، چې په فساد کې غرق دی . دوه کاله وړاندې د کابل حکومت دفساد په لست کې پینځمه مرتبه درلوده ، خو نن د دې لست په سرکې دی ، هغه پوښتنه چې دلته مطرحیږی : څه وشول چې نړیواله ټولنه په هغه حکومت خپله دباور او اعتبار کچه دوه چنده کوی چې فساد ئې دوه برابره شوی ؟!
اوبله پوښتنه : آیا نړیوال کنفرانسونه کولای شی – که چیرې هغه د کابل د کنفرانس په پیمانه هم وی ـ هغه نظام وژغوری چې د هیواد نه ئې د نړۍ د تریاکو ځولۍ او دنړیوالې مافیا اومنظمې جریمې ځاله جوړه کړی ده ؟ او حکومت د ضعیفې اداري ، د عدالت له نشتوالی ، دقبیلې د واکمنۍ ، د فساد له رواج نه نلیږي ، او همدا راز د شفافې اوباکفایته اداري د جوړولو قدرت ، ملی مشروعیت او سیاسی مصداقیت نه لري . او تر دې ټول مهمه خبره دا چې د هیواد اوخلکو د ستونزې د حل لپاره صادق نیت اوعزم هم نه لري ؟. آیا هغه حکومت چې وروسته له یوه کاله نه شي کولای خپل دوزیرانو لست پوره کړي هغه به څرنګه د هغو ګواښونو ته پاملرنه وکړي چې هیواد اوسیمې ورسره لاس ګیریوان دي ؟.
امریکا او دهغې لاسپوڅی افغانی حکومت دې نتیجې ته رسیدلی دي ، او د دواړو اړخونو تصرفات هم پدې ټکي دلالت کوی ، چې د اوسني کړکیچ نه دوتلولنډه لاره دا ده چې د پاکستان مرسته تر لاسه شي ، او دافغانستان په تاریخ کې د نوی دوه اړخیزه اشغال لپاره نوی پاڼه پرانیستل شي .
امریکایی ځواکونو غواړي په افغانستان کې خپل مسؤلیتونه په مختلفو سطحو وویشي ، په داخلي سطحه سیمیزې ملیشې جوړوی اوپه وسلو ئې سمبال کړي ، او په بهرنۍ سطحه خپل زاړه ستراتیزیک شراکت ته راګیرځي ، څرنګه چې د سړې جګړې پرمهال دا شراکت ؤ . د پاکستان پوځ څو ځله اعلان کړی چې په افغانستان کې ستراتیژیک عمق ته اړتیا لري ، او امریکا پدې پوهیدلی چې د فرصت له ختمیدو نه وړاندې باید له افغانستان نه ووځي ، او ریس کرزی چې خپل شهرت له لاسه ورکوی د ملي مشروعیت په لټه کې دی . او طالبان د کال ۱۹۹۶تر ۲۰۰۱ د خپلې واکمنۍ په دوران کې پدې پوهیدلی چې د نړیوالی ټولنې د منلو لپاره یوې معقولې څیرې ته اړتیا لری تر څونړیواله کلابندی او انزوا ترینه پورته شي . اوپه پاکستان کې یوشمیر داسې غړونه لکه حمیدګل دپاکستان داستخباراتوپخوانی ریس پیدا شوی چې وایی موږ(پاکستان) کولای شو هغه خلا پرته له زړوتیروتنو ډکه کړو ،چې د نړیوالو ځواکونو د وتلو په پایله کې به په افغانستان کې رامنځ ته شي ، دا راز دواړه لوبغاړی یوله بل سره نیږدې کیږي ، او دهغې خلا ډکول چې د نړیږال ځواکونو د وتلو په پایله کې به رامنځ ته شي ، دواړه اړخونه ته دا زمینه برابره وي چې سره نیږدې شي .
سربیره په هغه څه چې وړاندې مو یاد کړل ، د ایرانی لوبغاړی او هندي عنصر ،اود شمال او غرب قومی قیادتونو ،او د جنوب دوسلوالو ډلو په غیاب کې هیڅ راز سوله ممکنه نه ده ، نو آیا د پاکستان حکومت او د پاکستان پوځ به وکولای شي چې دخپل ستراتیژیک ملګری امریکا سره دسیمې پدې ستونزمنه کشاله کې مرسته وکړي ؟.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ